# خبرتيا

له  غرونو لمبی خيژی وينی که نه ؟
بمونه پری غورځيږی وينی که نه ؟
**
پکړی دسپين غر سوځی د هغه  پر سر
آسمان په وريځو پټ دی نه ښکاری لمر
کاون اخيستی اور سوځی ځنګلونه
را تاودی هندوکش نه لوی طوفانونه
بابا غر فرياد ی شو له ډير غمه
تور غر په لوګی پټ سوځی دم په دمه
**
د غرو تيکی ماتيږی وينی که نه ؟
لمبی تری پورته کيږی وينی که نه ؟
**
شين سترګی زيږوييښتان بمونه غورځوی
انګريز اخلی خپل غچ کورونه نړوی
ملا اخلی پيسی له پنجا بيانو
خان ساتی په لښکر د غربيانو
وطن کی ځيل کيږی خوارانو
کابل کړل کنډو الی افراطی ملايانو
**
وطن په اور سوځيږی وينی که نه ؟

افغان بی عزته کیږی وینی که نه ؟
**
له تا کوم پو ښتنه افغان ورورره
تر څو یی په خوله چپ پخپل کوره
پردی دی وطن کله جوړوی
غل تل د کوربه مال او منال لوټوی
دپلار زامن دی نه دی چی ورحمیږی
د ستا په نیستی هغو نه ځوریږی
**
چوپړ درنه جوړیږی پوهیږی که نه ؟
شمله دی را ټیټیږی پوهیږی که نه ؟
**
ورور مه وژنه جګړی نه زر لاس واخله
د خپل مرور ورور سره زر پخلا شه
له کوز او له بره افغانان که راټول
آزاد دی اولس که د غلیم مه خوره ګول
غلیم افغان صفت زر را نسکور که
نورمه پریږده په واک دخپل مټ په زورکه
**
افغانان ټول ځوریږی پوهیږی که نه ؟
په سوله خوشحالیږی پوهیږی که نه ؟
*****

پوهندوی دوکتور سید حسام (مل)
جرمنی ۲۰۰۸-۷-۱۳

www.ayenda.org